عبدالله نجات
۲۰۱۵/۰۴/۰۵

# د تاریخ وروستی ټاپې یولاسه هژمونی که هوډمن بدلون!؟

ملتونه لکه نن سبا په نوې پنځېدلي او جوړښتیز وضعیت کې د اطلاعاتی او نسلی بدلونونو په ګډون کوم څه ته چې لویه اړتیا لري هغه په ملی او سیمه ایزه کچه او یا په دواړو سطحوکې د هملاریتوب او ټلوالی پروژې دي. دغه طرحې نړیوال شویو جوړښتونو کې یو بل سره تړلي اړیکي لري . او په نسبي توګه یو بل بشپړوي او دغه امکان رامنځ ته کوي څو په دریو لوریو کې هممهاله پرمختګونه رامنځ ته شي . .
لومړی پرمختګ ټولنیز دی او دغه کار د دې غوښتنه کوي چې وټه ییزه پرمختیا لکه : نوښتون ، تولیدی زرغونتیا او حاصل ورکولو پورې اړوند پرمختګونه او د مارکیټونو اتکلي پراختیا باید په اړینه توګه ټولنیز پرمختګ سره یوځای وي تر څو ټول کسان د بوختیا او شغل د ضمانت او ټولنیز راښکون او جذبېدو د نابرابریو د راښکته کیدو له لاری ...له هغو ګټه پورته کړي .
دوهم ټکی ، په ټولوواقعي اړخونو کې د تل جاري ، نه تمکېدونکی او بی پایه بهیر په مانا ټولنیز وټه ییز مناسبات د ټولنی ربښتیني دموکراتیزه کول دي ، نه د ازلی او مطلقی ټاکل شوې نسخې پلي کول چې بدلونونه د تش په نوم «دموکراسی» په وچه اډانه کې کنګل کړي . د لویدیزو هیوادونو د تجربه شوي دود له مخې دموکراتیزه کول دا ایجابوی چې ددې کار عملی فضا وټه ییزو او ټولنیزو پولو اداره کولو ته هم وروغځیږي .او د ټولنی یوازې په سیاسي برید پوله پوری محدوده او تړلئ پاتی نشی . دریم ټکی د راټول شویو او راټالی شویو وټه ییزو او ټولنیزو پراختیایی پروژو د تمرکز د اړینتوب اوڅنګه والی منل دي.
په دې دریو لوریو کې کوم «ساری» چې مونږ یې پراختیا تعریفوو د دې غوښتنه کوي چې دغه پرمختیاوې یو بل سره انډول او موازی حرکت ولري. د موډرن پېښلیک تجربی د ښکېلاکیی لوبو د ګټو ترسیورې لاندې او د ناعادلانه سیاستونو له مخې «ملی خپلواکی» د مطلق لومړیتوب د ډالۍ کولوپه نوم رامنځ ته شوی او موډرنیشن هم یوازی همدی لرلید په خذمت کې د پوهیدو وړ دی . دغه موخه ځینې وختونه ټولنیزې پرمختیا سره هملارې وه او کله یی بیا پرمختیا له سره قربانی کړې بی لدې چې دموکراتیزیشن یې سیاسي پوهاوي اوکلتوري دود په حیث راټوکولئ وي. نوموړو تجربو له تاریخی ایسارتیاو او بندیزونوڅخه اوړېدو په چارو کې خپله کمزوري ثابته کړېده.
بیا د دې خلاف معاصری پروژې دې کړندود سره په مخامختیا او تقابل کې د دموکراسی رامنځ ته کولو په چارو کې د نړېوالې کیدنې او نړېوال کولو په متقابله خو ماهیتاً یواړخیزه تړلتیا کې تولیزه پرمختیا او ملي خپلواکي قربانوي . دغو پروژو نه یوازی داچې د دموکراسی د ژغورونکې ظرفیت په ځواکمنولو کې ونډه نده اخیستې بلکې په پای کې یې مشروعیت هم ورڅخه تروړلی دئ.
پداسی یوه وضعیت کې ټاکل شوي پارلمانونه ، پازمن او مسؤل حکومتونه د ننداریونونو او سینګار ځایونو لوښو حیثیت غوره کوي .دلته دحکومتونو بدلون دځېرو او غړونو بدلون دئ . مهالني بدلون سره سم چلندونه او رنګونه هم بدلوي خو ماهیتي پلوه ځانګیز او پر پلوېتوب ولاړ دي او د هغه ساري ( الترناتیف) مخه نیسي چې د ولسواکۍ مراندې پرې ولاړی دي . مدنی ټولنه او دموکراسی یی د ارونو پربنسټ تعریف مومی.
د ښاریتوب پرهڅوب او سیاست پر بشپړ ټینګار پخپله د ولسواکۍ فساد قابوکولو لپاره اړین الترناتیف او لازم امکانات ټاکی. پکار ده چې د دغه اړین الترناتیف په ټاکلو اړخونو کې چې یو له بله نغښتی او نه بېلېدونکی اړیکی لري د پرمختګ یون جاري وساتو . نو لازمه ده پراویزو استراتژیګانو ته چې د پرمختګ ځواکمنولو او ټینګولو لپاره لارې پرانیزي پراختیا ورکړو. دغه پرمختیاوې که په موجوده حالاتو کې کوچنۍ او لږ‌ی هم ښکاره شی دغه لرلیدونکی کړندود خورا مهم دی څو پدې توګه د پاتی راتللو ، ماتی خوړلو ، بېلاریتوب او شاګرځ احتمالاتو په راښکته کولو سره وکړای شو مخ په وړاندی اوچت ګامونه واخلو.
ددې پراویزو استراتژیګانو ځانګړی کول ایجابوي دا ټکی په پام کې ونیسو چې د علم او تکنالوژۍ دځانګکی وده اوسني مهال کې د دې لامل شوې چې د هغوی وده لاهم پیاوړی او چټکه شي. هغه هم په ټولو اړخونو کې. یانی له نویو شتمنیو او ذیرمو نېولی تر موجودو بالقوه ورانوونکو ځواکونو پوری چې علمی او تکنالوژیکو انقلابونو ځان سره رامنځ ته کړی دي ، دغه راز د کار په تنظیمونکو او ټولنیزو جوړښتونو کې بدلونونه او په پای کې ډېرو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

کوچنیو ډلو په لاس کې د پانګې راټولېدنې سره د هغوی اړیکې او د ادارې ملي کول او داسې نور پام کې ونېول شي. خو د یو داسې چارو د تحقق لپاره نښایي دهغوی په وړاندې زنګون کېښ او سربښکته کړو. ددې خیالونو په تمه چې ګواکې دغه تحولات داسې جادویي قدرت لري چې پخپله ټولنیزو پرمختګونو او دموکراتیزه کولو ته ځواب ویلئ شي. د دې خلاف د راټولونکې او کنټرول شوی دینامیسم په لمن کې د دی نوي چار د ځای په ځای کولو په مرسته کولای شو دهغه اتکلي خو منطقي او د عقلانیتوب له ژغورونکې ځواکمنۍ څخه ګټه پورته کړو.
پدې اساس که چېرې مودلته دهغې پروژې او راټولوونکو پروژو کربنی او هغه ګډه ملګرتیا چې دلته یې انځورکښل شوی او د ساري یا الترناتیف په توګه په پام کې نېول شوی نو پدې دلیل کوم سیاستونه چې د واکمن سیستم ځواکونه یې په اوسنۍ شیبو کې پلي کوي په دقیقه توګه د دغو غوښتنو او الزاماتو په وړاندې خنډ دي.
راټولونکې او دګډې ملګرتیا پروژه چې لېبراله نومول کیږی دمالي ګټورتیاو د یواړخیزه غوښتنو او الزاماتو په وړاندې دټولنیزو پرمختیاو پر قربانیدو ولاړه ده لنډمهاله ګټورتیا چې د واکمنې پانګې په ځانګو پورې تړلې ده . یانې له پنځوسوو نه تر پنځه زرو پورې ګڼ ملیتي لوی شرکتونه.
په دی لړلید او فکری اډانه کې د«آزاد بازار » یولاسه انحصاري منطق ته د انسانانو او ملتونو یواړخیزه هوکړه او سربښکته کول او پدی لاره کې په پټو سترګو سربښندنه او دآزادی او فردی اصالت په نوم هغه ته قدرتي سپېڅلتیا ورکول او دغوړیدلي ژوند د پیچلتیاو د ناځرګندو لارو په تندکونو کې یوبل جبر ته غاړه اېښودل او پرې قناعت کول د تاریخ پای اعلامیږي او دپانګې تلپاتې خیالي نړۍ او اتوپیا رسمیت مومی .چې دا د بېوسې پریکړه بلل کېدای شي خو حق او حقپوهنه یې د نویو پوښتنو او پلټنو په مرسته ځوابوی . ددغې پریکړې پر بنسټ د ټولنیز ژوند ټولې خواوې باید د دغې «سپېڅلې اتوپیا» یا نی د پانګې د ګټورتیا له غوښتنو سره ځان سم او برابری کړي هغه اتوپیا چې له هرې زاویې پېکه او ګوابسوونکې ده چې نه علمي بنیاد لري او نه په اخلاقې لحاظ انساني هڅو ته مثبت لورۍ ورکولئ شي.
خبره دا ده چې د دغې سپېڅلتیا د تعبیرونو او تفسیرونو په ګونګه خړه کې انسان او د هغه ژوند خپل لورۍ او موخې له لاسه ورکوي او خپله ځواکمنې د نه منل شوي او نا اعلام شوي برخلیک وچ تقدیر په واک کې ورکوي او د دغه شانې خیالي سربښندنې په پایله کې ټولنیز واقعیتونه او د هغوی تر څنګ عدالتپاله ارماني دموکراسي هم له هر راز رښتینولۍ تس نسه کیږي. په نړېواله کچه دغه لاره او د هغې متابعت یوازې او یوازې د ملتونو او سیمو ترمنځ د واټنونو د ژورېدو او د نابرابریو د زیاتېدو لامل ګرځی .حتی پرهغو جوړښتونو چې د پانګې د نړېوال کېدنې الزاماتو له مخې راټوکیدلي دي او د پراختیا نوي کیفیتونه یې ترلاسه کړي دي دغه ګونګه خړه لازیات منفي اغیز شیندی او ویروونکو ګواښونو ته لارې او زمینې جوړوي .
اصلي ټکۍ دادئ چې لیبرالی اندنه او کړندود چې عملاً ډېر، لږو ته سپاري او د انحصاراتو پرلورې لارې غځوي هم په ډلیزه توګه او هم دسیمو د کیفی توپیرونو د نا انډولۍ له مخې ګټې د ټاکلو انحصاري کړیو او ډلو په واک کې ورکوي او دلته بیا انحصار یوازی د صنعت په برخه کی دڅو واکمنو انحصاري قطبونو په برلاسۍ کې نه پاتی کیږي بلکې په کمي او کیفي لحاظه د سیاسي ،اقتصادي او ټولنیز کنټرول د نورو شکلونو انحصار هم ورسره تړلئ دئ .چې مونږ د لیبرال انحصاری لید لوري د ځبیښاک او ناټاکلی نیواک او پر ارزښتونو د هغه د واک او صلاحیت زیاتی بیلګی او چلندونه ساری په توګه یا دولی سو.
د پرمختللو او وروسته پاتې هیوادونو او سیمو د اړیکو تاریخی مزل په حقوقی برخه کې ژوره نابرابرتیا او پر ارزښتونو د مالکیت نا انډولی رامنځ ته کړې ده .دغه توګه ددې لامل شوې چې له مخې یې حقوقي واک او ځواک د شتمنو او انحصاري قطبونو په واک کې ورکړي. ساری په ډول د تکنالوژی کنټرول چې دهمدې نا انډوله مناسباتو دقانونی ګرځولو په لړ کې دفکری او صنعتی لاسبریاو او پیداوارو د مالیکت په اړه مقدس قانون ګرځیدلی او دامهال بې وروسته پاتی نړۍ لپاره د ژوند لارو په بهیر کی خنډونه او بندیزونه رامنځ ته کړي دي.
د ټولې نړۍ له زیرمو څخه ګټه اخیستنه او کاروونه .د انحصاري اطلاعاتي مالکیت له مخې نړیوالو فکرونو او ذهنیتونو ته لوری او شکل ورکول. دمالی انحصاري ځواکونو نقش او اغیزمنتیا هم انساني اصالت له مخې او هم دآزادی او عدالت تامینولو په لاره کی پاتی راغلئ او دشتمنتیا په ګټه یی د نېستمنتیا ،بېوزلۍ او غربت ګواښمنه نړۍ جوړه کړیده . چې په واکمن نړیوال حقوقی نظام کې بې دګټې او پرمختیا حل لارې د انحصاري واکمنۍ په متابعت کې خلاصه کیږي.
یوه داسې ټولنیز -سیاسي او فرهنګي - اقتصادي چاپیریال کې دامهال ټولنیزو اقتصادی په علمی څېړنو او ارزونو کې د ښارېتوب او مدنی سیاستونو اجتماعی خوځښتونو پر رغون اوپراختیا ټینګار کیږي . اوسني عصر کې داسی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ټولنه  نشته چې په مطلقه کنګلتیا او نه خوځښت کې پاتې وي .دلته بیا د «ټولنیزو خوځښتونو » دشتوالی پوښتنی ځای نلري او نه کوم نوئ کار او نوې خبره ده که هر حالت او د کار وتلاش هره توګه یی غوره کړی وی ،که په ښکاره او څرګنده توګه تنظیم شوی وی که په پټه فعالیت لري که په ټاکلو پروګرامونو او کړنلارونو یی هوکره کړی وي چې موخې یې په ایډیالوژیکو–سیاسي مقولو کې فرمول شوي ا وشکل یی غوره کړی وي که یې سیاستونو سره د نه جوړېدا او زړه بداوي په خاطر له لویو شعارونو او ان تر دې چې که له سیاسي لوبوڅخه د ځان لیری ساتلو موخه ولري  او  که د پاخه دیسپلین په چوکاټ کې یې چارې تنظیم کړي وي او یا په شډله او نامنظمه توګه چاری پر مخ وړي خو هغه څه چې د اوسنیوخوځښتونو ځانګړتیا ده هغه دا ده چې ټولنیز خوځښت  او مدنی ټولنه د موډ  شوي ترتیب  او تعبیر له مخی  یو له بله بیل ظرفیتونه دي ، له سیاست او ایدیالوژیکو ډلبندیو هم منع دي.

دغه کار د معاصر تاریخ د ځانګړي پړاو او له دوهمې جګړې وروسته ټولنیزو او سیاسي مبارزو د شکلونو او په خاصه توګه د انفعال او ځپځپانتوب محصول ګڼل کیږي .نو لدې کبله د کاریتوب او دغه راز د هغوی د اعتبار او مشروعیت له منځه تللو په نتیجه کې دغه  منفعلانه او خنثی تګلوری د اساسي ناانډولی سبب جوړ شوئ ، واکمنې پانګې  یانی پانګه وال نظام  ته یې دغه امکانات ورکړي چې ټول موقعیت او صحنه ځان ته کړي او دځانګړو ګټو محور بې وګرځوي. دچارو د مدیریت او دکاری میکانیزمونو او د موخو ټاکلو حقوقی صلاحیت او دقدرت میچانی په لاس کې د درلودو له امله نوره ټولنې دخپلو غوښتنو د انحصاری منطق ترسیوی لاندی راولی د دغو چارو  د رغون او دودولو او تولید د قدرتی برخلیک او فرهنګ هدف ګرځولو له مخی او د انساني موخو او ارزښتونود« آزادولو» له لارې دخپلې واکمنۍ تلپاتیتوب او سپېڅلتیا اعلان کړي.

 سربیره پر دې دغه ادعا هم کیږي چې دغه واکمني عقلانیت او خیر سره ملګري او له ننیو منطقی اړیکوسرچینه اخلی. ټولنیز خوځښتونه  په بیلابیلو ښکلونو کی شتون لري او خپل حضور او کړنی په ټوله نړۍ کې پیاوړی کوي.دغه ټکۍ هومره ښکاره اوجوت دئ چې یادولو او ثابتولو ته اړتیا نلري. د دموکراسۍ د پنځوني او رایجولو خوځښتونه،د ښځو حقوق ،د ملتونو حقوق،د بزګرانو حقوق د کار او بوختیا حق د ژوند دچاپیریاِل غوښتنې او ملزومات ،انسانی او بشري اساسي حقونو د اعادی او سمبالتیا خوځښتونه او داسې نور ددې خوځښتونو یو ځیني بیلګی دي.ددې نوي مبارزاتی الترناتیف په غښتلتیا او هغه کې دځوځښتونو  د  فعال ګډون  په ملاتړ د نړۍ مثبت بدلون  کېدونکۍ اوممکن شمیرل کیږي.خو مثبت بدلون داهم غواړي  چې دغه خوځښتونه  ورو ورو دا ومنی او پدې فکر او ټینګار وکړي چې  د ګڼوالي او تنوع په پام کی لرلو او درناوی له مخې له ځانځانۍ اوشېندل شوي حالته دملګرتیا او هملاریتوب منزل ته لاره ورسمه او وغځوي . چې په یوکوونکو ،راغونډوونکو،نوښتګره او کارندویه پروژو کی په ځواکمنو اصلي او ټاکونکو لوبغاړو بدل شي څو دخپل ځواک او ځواکمن ګډون او فعالې ونډې په مرسته دښاریتوب هېوادنۍ او سیاسي استراتژیکانی  د ژوند ډګر ته ور وړاندې کړي .

د یادولو وړ ده چې دخوځښتونو لویه برخه او هغه هڅان ځواکونه چې دچارو بهیر اداره کوي تر نن  پورې تل په شا تلونکی پاتې شوي او شاته ساتل شوي. یانی هیڅکله پنځګر، مخکښ نه وو. او په ځپځپانه  توګه او په خنډ اوځنډ یې ځینو ټوټه شویو استراتژیو، اړوند څېړنیز لټون او شننو ته ځواب ورکړئ دئ. دوی ښایي دغو دفاعي، انفعالی غبرګونونو او کمزورو دریځونو څخه ځان وژغوړی او پر ځای یې خپلې استراتژیکانې او وړاندیزونه خپل خبري ټکي او ژبه او موخې ځای پرځای کړي .  .یوازې هیوادنۍ او د ښاریتوب د سیاست بیا رغونه ده چې کولئ شي «خوځښت» ته امکانات چمتو کړی ترڅوهغه پراخوالۍ او کارندویي ترلاسه کړي چې موجوده ناانډولی تر پوښتنې او ګروېږنې لاندی راولي.یوازی او یوازې دغه بیا رغون دئ چې کولای شي د ټولنیزې او سیاسي نوې انډولتیا د راڅرګندیدو او راپورته کېدو امکانات چمتو او شوني کړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ